# ثبات جوړونه

## ثبات جوړونه

په افغانستان کې د آلمان لخوا د ثبات لپاره پیل شوي ګامونو لومړني اهداف د خوندي چاپېریال برابرول، له ځنډ څخه پرته د ژوندانه شرایط ښه کول، د حکومت او مدني ټولنې ظرفیت پیاوړی کول دي. په دې کې د پارلماني او ولسمشریزو ټاکنو، د پخلاینې/سولې تګلارې او د قانون له حاکمیت څخه ملاتړ شامل دی.

د آلمان حکومت د پولیسو داسې یو ځواک روزي چې د قانون حاکمیت پر بنسټ د امنیت ساتلو/راوستلو توان ولري. په افغانستان کې اوږد مهاله امنیت یوازې په هغه صورت کې تضمین کېدلای شي، که چېرې د هیواد امنیتي ځواکونه د دې توان ولري چې د خپلو ټولو دندو مسولیت پر غاړه باندې واخلي.

په دې کې د آلمان حکومت لخوا وړاندې شوې مرسته چې د UNDP لخوا اداره کېږي، د افغانستان لپاره د قانون او نظم بودیجوي صندوق (LOTFA) لپاره ټولټال ۶۰ میلونه یورو شامله ده، چې له دې بودیجې څخه د افغان پولیسو معاشونه ورکول کېږي. پردې سربېره، د آلمان فدرالي حکومت د نارینه او ښځینه پولیس افسرانو د سواد زده کړې کورسونو بودیجه هم ورکوي چې موخه یې د پولیسو او ټولنې تر منځ باور جوړول دي. د ۲۰۰۲ او ۲۰۱۴ کالونو ترمنځ، د آلمان د پولیسو دوه اړخیزه پروژې له ۷۳۰۰۰ څخه ډېر افغان پولیس روزلي دي.

د دولتي جوړښتونو پیاوړتیا بشپړولو لپاره، په افغانستان کې ثبات له مدني ټولنې څخه ملاتړ کول دي. په دې کې (د بېلګې په توګه Medica Mondiale, Save the Children اداړو په همکارۍ) د ښځو، ماشومانو او ځوانانو د حقونو ترویجوول شامل دي. هغه تګلارې چې په مستقیم ډول په افغانستان کې د سولې او پخلاینې په بهیر کې مرسته کوي، له هغوی سره هم مرسته کېږي.

په افغانستان کې د ثبات لپاره قوي معیشت هم مهم دی. د بنسټیزو زیربناو پراختیایي پروژو لکه (اداري ودانۍ او روغتونونه) د هدف وړ پروژو سربېره، فدرالي حکومت په کابل کې د ښاري زیربناو په بیا رغونه لکه ( د بابر او چهلستون باغونه) کې هم مرسته کوي. همداراز، له پاکستان، تاجکستان او ایران سره سرحدي سیمې په ځانګړې توګه د زیربنایي پروژو له طریقه ورسره مرسته کېږي چې نه یوازې په سیمه کې به د ژوند کیفیت ښه کړي بلکه د پولې له هغه خواوو سره به همکارۍ او اقتصادي پراختیا ته هم

## PROJECT BRIEFS

## د پروژې خبرونه

- په کابل کې د ولایتي کانونو مفتشینو لپاره د کانونو معیاري روزنه (http://ez-afghanistan.de/ps/news/4138) 09.05.1398 I خبرپاڼه
- د کندز ولایت په امام صاحب ولسوالۍ کې د نجونو د نوي ښوونځي ګټه ۲۴۰ زده کوونکو ته رسېږي (http://ez-afghanistan.de/ps/news/3688) 28.10.1397 I خبرپاڼه
- د مېرمنو لپاره د کان کیندنې اکاډیمیکې زده کړې: ایران ته د پوهنتونو ښځینه زده کوونکو سفر (http://ez-afghanistan.de/ps/news/3568) 25.08.1397 I خبرپاڼه

## اضافي معلومات

- Fact sheet: Integrating Internally Displaced Persons (IDPs) (http://ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-IDPP-d-Pashto.pdf)
- Fact sheet: Integrated Experts in Afghanistan (http://ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-CIM-d-7_Pashto.pdf)

ضمینه برابره کړي.

په افغانستان کې داخلي بې ځایه شوي کسان د لاسي صنایعو په برخه کې روزل شوي او خپل کورونه له محلي سرچینو سره د جوړولو په برخه کې ورسره مرسته شوې ده. سیمه ییز چارواکي د شخړې حساسیت او د نوي راستنېدونکو سره منصفانه چلند کولو په برخه کې روزنه ترلاسه کوي څو د کډوالو او کوربه ټولنو ترمنځ د شخړو مخنیوی وشي.

د مونږ د کار په اړه د ثبات لومړیتوب په باره کې مفصل معلومات د پروژې تفصیل او 'کیسو' په برخې کې موندلای شئ.

## زمونږ کار پدی برخه کې

**اعتماد جوړونه – د افغانستان په ټولنو کې د پولیسو د چاروو تامینول**
د خلکو او پولیسو تر منځ د باور جوړولو او د پولیسو په خدمتونو کې په ماهرانه ډول د منځته راتلونکو ستونزو د حل کولو په موخه د المان حکومت په افغانستان کې د ډیالوګ د غونډو د سازمان ورکولو او د روزنیزو کورسونو د جوړولو په لاره کې د افغان لوري د اقداماتو څخه ملاتړ کوي.
(http://ez-afghanistan.de/ps/news/4013)

**د افغانستان په شمال کې د کډوالو ادغامول**
د المان حکومت د افغانستان د کډوالو او راستنیدوکو د وزارت سره د هیواد په کوربه ټولنو کې د کورنیو بیځایه شویو او راستنیدونکو د ادغام د کار د آسانه کولو په موخه د استوګنې او لومړنی بیخبنا د برابرولو په لاره کې مرسته کوي.
(http://ez-afghanistan.de/ps/news/4005)

**په افغانستان کې د کارپوهانو ادغام**
په افغانستان کې د وزارتونو، مهمو ادارو او د حکومت د اداري ارګانونو د منجمنت د کچې د لوړولو په موخه د المان فدرال حکومت د افغانستان د کار په بازار کې د ادغام شویو کارپوهانو د معرفي کولو څخه ملاتړ کوي.
(http://ez-afghanistan.de/ps/news/1758)

- Fact sheet: Improving Health Care Provision for the Afghan People (http://ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-(Gesundheit-d-Pashto.pdf
- Fact sheet: Mining in Afghanistan – Improving University Education (http://ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-(Amea-d-7_Pashto.pdf
- Fact sheet: Promoting Cross-Border Development and Cooperation (http://ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-(Patrip-d-7_Pashto.pdf
- Fact sheet: Revitalisation of Chihilsitoon Park (http://ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-(Chihilsitoon-Pashto.pdf
- Fact sheet: School Sponsorship in Afghanistan (http://ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-(SGS-d-7_Pashto.pdf
- Fact sheet: Strong local government structures to stabilize northern Afghanistan (http://ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-(SPNA-d-Pashto.pdf



**د افغانستان د خلکو دپاره د روغتيايي څارنې سمون**

د دې لپاره چې د خلکو دپاره روغتيايي څارنې د هيواد د پايتخت کابل نه بهر هم تامين شي، د المان حکومت په افغانستان کې د روغتيايي مرکزونو د بيارغونې او سمبالولو، او همدارز د هغو ګامونو څخه هم ملاتړ کوي کوم چې د پوليو د کورنې «وحشى» رنځ سره د مبارزې په لاره کې، چې د نايجريا او پاکستان تر څنګ اوس هم په افغانستان کې شتون لري، پورته کيږي.

(http://ez-afghanistan.de/ps/news/1954)

**په افغانستان کې د کانونو ايستل – د لوړو زده کړو سمون او د نوښتونو منځته راوړل**

د دې لپاره چې د کانونو د سکتور پوتنسيالونه په ښه توګه وکارول شي د المان فدرال حکومت د افغانستان څخه د کانونو د ايستنې په څانګه کې د مسلکې زده کړې د سمون، د کار د بازار او اقتصاد د اړتياوو سره د دغې زده کړې د تطابق او په نړيواله کچه د هغې د اړيکو د تامينولو په اړه ملاتړ کوي.

(http://ez-afghanistan.de/ps/news/1724)

**د پولې پر سر د پراختيا او همکارۍ تينګښت**

د دې لپاره چې د افغانستان، پاکستان او تاجکستان د پيچلو سرحدي سيمو ميشته اوسيدونکو ژوند سمون ومومي، د هغوی ترمنځ همکاري او ادغام آسانه شي، او اقتصادي پراختيا تحريک شي، د المان حکومت د سيمې د ټولنيزې-اقتصادي بيخبنا د پراختيا څخه ملاتړ کوي.

(http://ez-afghanistan.de/ps/news/1736)

**د کابل په زړه کې د ژوند کيفيت ته سمون ورکول او د کار د فرصتونو منځته راوړل**

د ځوانانو او ښځو دپاره د اړينو آسانتياوو د برابرولو په موخه د المان حکومت د کابل په جنوب کې د چهلستون د تاريخي بڼ د بيارغونې سره مرسته کوي. دغه عمومي بڼ چې د ۱۲ هکتاره مساحت په لرلو سره په کابل کې تر ټولو لوی بڼ ګڼل کيږي، اوس په يوې موډرنې طرحې سره بيارغول کيږي.

(http://ez-afghanistan.de/ps/news/1734)

**په افغانستان کې د ښوونځيو ځخه ملاتړ – د ښه تدريس په موخه**

د افغانستان د کوچنيانو او ځوانانو د ښوونې او روزنې د دوامداره سمون په موخه د المان فدرال حکومت په کابل کې د دريو بيلګې ښوونځيو ځخه ملاتړ کوي چې له هغو ځخه د موډل په توګه په نورو ښوونځيو کې ګټه واخيستل شي: د هلکانو اماني ليسه، د نجونو عايشه دراني ليسه او د جمهوريت ليسه چې د نجونو د اقتصادي علومو ښوونځی ده.

(http://ez-afghanistan.de/ps/news/1716)

**د افغانستان د شمال د ثبات جوړونې په موخه پياوړي حکومتي جوړښتونه**

د دې لپاره چې محلي جوړښتونه د ولاياتو په کچه غښتلي شي او په عين حال کې په کليوالي سيمو کې د افغانستان د خلکو د ژوند شرايط سمون ومومي، د المان فدارل حکومت په دې ډګر کې د اړينو ظرفيتونو د جوړولو او همداراز په افغانستان کې د کوچنيو بيخبنايي اقداموتو ځخه ملاتړ کوي.

(http://ez-afghanistan.de/ps/news/1773)

**د پوليسو د خدمتونو ځخه ملاتړ – روزنه او د سواد زده کړه**

د المان فدرال حکومت د افغانستان د پوليسو افسرانو لپاره د روزنې او د سواد د زده کړې د اقداموتو ځخه په ټول هيواد کې د ثبات او امنيت د سمونتيا او د ملي پوليسو د خدمتونو د خپلواکۍ او کارپيژندنې د زياتولو په موخه ملاتړ کوي.

(http://ez-afghanistan.de/ps/news/4025)